د افغانستان اسلامي امارت

د ارشـــــاد، حـــــج او اوقافـــــو وزارت

د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی ریاست

دجمعې ورځې د خطابت موضوع او

لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو

ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

۲۴/ رمضان المبارك /۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۲۲/ حوت/۱۴۰۴هـ، ش

د صدقة الفطر (سرسايې) ځانګړي احکام ، او په رمضان المبارک کې د نورو صدقاتو فضایل او ګټې

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله ولي الصالحين، غَافِرِ الذَّنْبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيدِ الْعِقَابِ ذِي الطَّوْلِ لا إِلَهَ إِلَّا هُوَ إِلَيْهِ الْمَصِيرُ ، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، صلى الله وسلم وبارك عليه وعلى آله وأصحابه والتابعين ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين، وبعد:قال الله سبحانه وتعالى: (قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّى * وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّى). الأعلى: (١٥)

قال الامام ابو الليث السمرقندي: ويقال (قد أفلح من تزكى) يعني أدى زكاة الفطر (وذكر اسم ربه فصلى) مع الإمام صلاة العيد). بحر العلوم (٣/ ٥٥٠)

په مسجد کې درنو حاضرینو او اوریدونکو !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

د الله تعالی لوی فضل او کرم دی، چې د مسلمانانو لپاره یې داسې عبادات مشروع کړي دي چې د نورو عباداتو نقص او کمی ور باندې جبیره کیږي ، چې د هغې له جملې څخه د صدقةالفطر(سرسایې) وجوب دی ، چې د صدقة الفطر په ورکړې سره د رمضان المبارک د روژو نقصان جبیره کیږي لکه څرنګه چې په لمانځه کې په سجده سهوې سره د لمانځه نقصان جبیره کیږي.

د صدقة الفطر(سرسايې) مشروعیت :

صدقة الفطر(سرسایه) د هجرت په دوهم کال کې د کوچني اختر څخه دوه ورځې مخکې واجب شوه. رد المحتار (٧/ ٢٧٦)

په حد یث شریف کې راځي: عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ:« فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ عَلَى الْعَبْدِ وَالْحُرِّ وَالذَّكَرِ وَالأُنْثَى وَالصَّغِيرِ وَالْكَبِيرِ مِنْ الْمُسْلِمِينَ وَأَمَرَ بِهَا أَنْ تُؤَدَّى قَبْلَ خُرُوجِ النَّاسِ إِلَى الصَّلَاةِ» . صحيح البخاري ت (٣/ ٥٧٠)

ژباره:د عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې چې واجب کړی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم صدقة الفطر(سرسایه) یوه پیمانه د خرما څخه او یا یوه پیمانه د وربشو څخه په غلام باندې او په آزاد باندې ، نارینه باندې او په زنانه باندې او په ماشوم باندې او کبیر باندې دمسلمانانو څخه او نبي علیه السلام امر کړی دی په صدقة الفطر باندې چې ور دې کړی شي مخکې د خلکو د وتلو لمانځه ته(داختر). عمدة القاري (١٤/ ١٤٢)

په دې حديث کې راغلي دي چې په غلام باندې صدقة الفطر واجب ده . دا زمونږ مذهب نه دی.
صدقة الفطر دريو هدفونو لپاره واجب شوې ده :
١-په روژه کې د روژه دار څخه د رامنځ ته شوو خللونو او نقصانونو د جبيره کولو لپاره.
٢- د اختر په ورځو کې مسکينانو او فقيرانو سره مرسته کولو او د هغوی اقتصادي مشکلاتو مرفوع کولو لپاره ،لکه چې په حديث شريف کې راځي: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ:« فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- زَكَاةَ الْفِطْرِ طُهْرَةً لِلصَّائِمِ مِنَ اللَّغْوِ وَالرَّفَثِ وَطُعْمَةً لِلْمَسَاكِينِ». سنن أبى داود-ن (٢/ ٢٥)

ژباړه: د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی ، هغه وايې چې فرض کړی ده رسول الله صلى الله عليه وسلم صدقة الفطر (سرسايه) (لپاره) د پاکوالي د روژه دار د بيهوده او لغوه خبرو او فحش وينا څخه او(لپاره) د خوراك د مسکينانو.

د همدې حديث په يو بل لفظ کې راځي: وَقَالَ:«أَغْنُوهُمْ فِي هَذَا الْيَوْمِ». سنن الدارقطني ٣/ (٨٩)

ژباړه: او نبي عليه السلام وفرمايل: بې نيازه کړئ دوی(مسکينان او فقيران) په دې ورځ کې .

٣-او د اختر په ورځ کې د مسکينانو او فقيرانو خوشحالولو لپاره، په هغه ورځ چې ټول مسلمانان په کې خوشحاله وي.نور الإيضاح (ص: ١٣٥)

د صدقة الفطر(سرسايې) د وجوب شرطونه:

١-سرسايه پر هغه مسلمان، چې آزاد وي او مال يې د سرسايې د نصاب په اندازه وي واجبه ده. د سرسايې په نصاب کې سره زر، سپين زر، نغدې پيسې، تجارتي مالونه او له اساسي اړتياوو زيات مال راځي. له دې شيانو څخه يو شی يا د څو شيانو مجموعه چې د سپينو زرو نصاب ته ورسيږي، سرسايه پرې واجبيږي.

٢-د صدقة الفطر(سرسايه) په هغه چا واجب ده ، چې د کوچني اختر صبح صادق بيا موزي.که څوک د صبح صادق څخه مخکې مړشو او يا د صبح صادق څخه مخکې فقير شو په دوی باندې صدقة الفطر(سرسايه) واجب نه ده، ځکه چې د اختر صبح صادق يې بيا نه موندلو.

همدا راز که څوک د اختر د ورځې د صبح صادق څخه وروسته څوک وزيږيدلو ،يا څوک غني شو يا چا اسلام راوړلو، نو په دوی صدقة الفطر(سرسايه) واجب نه ده.نور الإيضاح (ص: ١٣٦)

صدقة الفطر(سرسايه) به څوک ورکوي؟
په هر چا کې چې د صدقة الفطر(سرسايې) شرطونه موجود وي، هغه به د خپل ځان او دخپلو صغيرانو اولادونو څخه او بالغ ليوني زوی چې فقير وي صدقة الفطر(سرسايه) ورکوي. حاشية رد المحتار (٢/ ٣٩٦)

دبالغ اولاد صدقه فطر ورکول په پلار واجب نه ده او دښځې صدقه فطر په خاوند واجب نه ده؛ البته د بالغ اولاد اوښځې صدقه فطر ورکول هم جواز لري.(په دې شرط چې بالغ زوی د پلار په سرپرســتۍ کې وي). الطحطاوي على المراقي (ص: ٤٧٥)، حاشية رد المحتار (٢/ ٣٩٦)

د مور او پلار صـدقة الفطر(سرسـايه) په زوی باندې واجب نه ده، مگر که چيرې د چا پلار ليونی وي او فقير وي او د زوی په سرپرستې کې وي ، د پلار صدقة الفطر(سرسايه) په زوی واجب ده. الاختيار لتعليل المختار (١/ ١٣١)، البحر الرائق (٢/ ٢٧١)

د سرسايې د وجوب وخت:

صدقة الفطر (سرسايه)، د کوچني اختر په صبحِ صادق سره واجبيږي.

-صدقة فطر داختر له ورځې څخه مخکې ورکول هم جواز لري، خو مستحب داده چې د اختر لمانځه ته د وتلو څخه مخکې ورکړل شي. صدقة الفطر(سرسايه) د رمضان مياشتې په اوږدو کې ورکول هم جواز لري او د اختر څخه وروسته ورکول يې هم جواز لري. نور الإيضاح (ص: ١٣٦)

-که چيرې يو ځل صدقه فطر(سرسايه) په چا باندې واجب شوه او بيايې مال لمنځه ولاړ (ضائع شو) ، صدقه فطر دهغه له ذمې څخه نه ساقطيږي. حاشية الطحطاوي على المراقي (ص: ٤٧٥)

د سرسايې توکي:

صدقة الفطر(سرسايه) له څلور ډوله خوراکي توکو (غنم، وربشې، خرما او مميزو) څخه ورکول کيږي.

غوره داده چې ددغو اجناسو قيمت ورکړل شي؛ ځکه اړمن خلک کولای شي خپلی اړتيا وې په پيسو سره رفع کړي، مگر که چيرې د غلو دانو په پيدا کيدلو سختی زمانه وه او قحطي وه ، نو بيا غنم ، وربشې او خوراکي توکي ورکول د پيسو ورکولو څخه غوره دي. مراقي الفلاح (ص: ٢٦٩)

د سرسايې مستحقين:

د صدقة الفطر(سرسايې) مستحقين د زکات مستحقين (فقيرانو، مسکينانو، د زکات ټولوونکي، پورورو، مجاهدينو او مسافرو) دي.يعنې کوم کسان چې د زکات مستحقين دي ، نو هغوی د صدقة الفطر(سرسايې) مستحقين هم دي.

که چيرې د چا ورور يا خور يا ترور يا عمه يا خوری مسکين وي، دوی ته د صدقة الفطر(سرسايې) ورکول جائز ، بلکې بهتره دي د صله رحمی له وجی نه. ماشومانو ته په عيدي کې د صدقة الفطر(سرسايې) ورکول جواز نلري او صدقة الفطر نه اداء کيږي. الطحطاوي على المراقي (ص: ٤٧٤)

د صدقة الفطر(سرسايې) اندازه :

صدقة الفطر دڅلور ډوله خوراکي توکو څخه په لاندې مقدارونو سره ورکول کيږی:

١-نيمه پيمانه غنم يا د نيمه پيمانې دغنمو اوړه (د١٩٠٠ گرام) يعنی يو کيلو اونهه سوه گرامه.

٢-يوه پيمانه وربشې يا يوه پيمانه د وربشو اوړه(٣٨٠٠گرامه) يعنی درې کيلو او اته سوه گرامه.

٣-يوه پيمانه خرما (٣٨٠٠گرامه) يعنی دری کيلو او اته سوه گرامه.

۴-يوه پيمانه مميز (٣٨٠٠گرامه) دری کيلو او اته سوه گرامه.

د کابل ښار او ښار ته نږدې علاقو لپاره د صدقة الفطر(سرسايې) د مقدار جدول

د روژې مبارکې صدقة الفطر(سرسايې) جدول د کابل ښار د خوارکي توکو داندازې او نرخونو پر بنسټ ترتيب شوی دی.

شمېره	جنس	وزن	بيه
۱	غنم	يو (۱) کيلو او ۹۰۰ گرامه	۵۹ - افغانۍ
۲	د غنمو اوړه	يو (۱) کيلو او ۹۰۰ گرامه	٦۱ - افغانۍ
۳	وربشې	درې (۳) کيلو او ۸۰۰ گرامه	۱۱۸ - افغانۍ
۴	د وربشو اوړه	درې (۳) کيلو او ۸۰۰ گرامه	۱۲۲ - افغانۍ
۵	خرما	درې (۳) کيلو او ۸۰۰ گرامه	۵٤۰ - افغانۍ
٦	مميز	درې (۳) کيلو او ۸۰۰ گرامه	۹۲۰ - افغانۍ

يادونه:

- د يادو توکو کره اندازه د مجمع علمي رياست د دارالافتاء آمريت له خوا ټاکل شوې ده، د احتياط له مخې غوره ده چې د يوې فطرانې انـدازه له غنمو او د هغو له اوړو څخه دوه (۲) کيلو په پام کې ونيول شي، چې د غنمو بيه (٦۲) افغانۍ او د اوړو بيه (٦٤) افغانۍ کيږي او همدا راز د پاتې نورو توکو د يوې فطرانې اندازه (۴) کيلو په نظر کي ونيول شي، چې د وربشو بيه (۱۲٤) افغانۍ، د وربشو د اوړو بيه (۱۲۸) افغانۍ، د خرما بيه (٥٦۸) افغانۍ او د مميزو بيه (۹٦۸) افغانۍ کيږي.
- په ولايتونو کې د دغو توکو په بدل کې، د نغدو پيسو ورکولو په صورت کي، بيه يې بايد د ځايي نرخ له مخې ورته وټاکل شي.

- ✓ همدا راز که چيرې احتياطاً د غنمو يا دغنمو د اوړو د(۱۹۰۰گرامه) مقدار په ځای پوره ددوه کيلو غنمو قيمت ورکړل شي ياد يوې پيمانې وربشو(۳۸۰۰ گرامو) په ځای پوره دڅلورو کلو قيمت ورکړل شي بهتره به وي.
- ✓ د مسکينانو او فقيرانو د اقتصادي حالت د بهبود په خاطر ، هغه کسان چې توان يي لري بهتره داده چې دهغه جنس قيمت ورکړي چې په بازار کې يي نرخ لوړ دی، لکه نن سبا چې د خرما، مميز، وربشې او د وربشو د اوړو قيمت د غنمو او د غنمو د اړو په نسبت لوړ دی.

په رمضان المبارک کې د نورو صدقاتو فضایل:

درنو حاضرینو!

رمضان المبارک د صدقاتو او خیراتونو او سخا میاشت ده او الله تعالی کریم ذات دی او کرم خوښ ګڼي او سخي ذات دی سخا خوښه ګڼي .

د رمضان المبارک میاشت زیات عبادت کول په کار دي په ځانګړې توګه صدقات ورکول؛ ځکه چې د زمان او مکان د شرف په وجه د عباداتو او صدقاتو اجر زیات وي خصوصاً د رمضان المبارک په میاشت کې.

نبي علیه السلام به رمضان المبارک کې تر بل هر وخت څخه زیات سخي ؤ.

په حدیث شریف کې راځي: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدَ النَّاسِ، وَكَانَ أَجْوَدُ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ حِينَ يَلْقَاهُ جِبْرِيلُ، وَكَانَ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ فَيُدَارِسُهُ القُرْآنَ، فَلَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدُ بِالخَيْرِ مِنَ الرِّيحِ المُرْسَلَةِ» صحيح البخاري (١/ ٨)

ژباړه: د حضرت عبدالله بن عباس څخه روایت دی و هغه وایې، چې رسول الله صلي الله علیه وسلم تر ټولو خلکو زیات سخې ؤ ، او بیا (د نورو میاشتو په نسبت به) د رمضان المبارک په میاشت کې زیات سخي کیدلو ، هغه وخت چې کله به ورسره ملاقات کولو جبرائیل علیه السلام به ورسره په رمضان المبارک کې هره شپه ملاقات کولو او نبي علیه السلام به تکرارولو قرآن کریم له جبرائیل علیه السلام سره ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ډیرزیات سخي ؤ په خیر کې له روان باد څخه (په دوام د خیر کې).

رسول الله صلی الله علیه وسلم د علم په خپرولو کې سخي ؤ، د الله تعالی ددین په لوړوالي کې سخي ؤ ، د خلکو د هدایت په برخه کې سخي ؤ، په هره ممکنه لار خلکو ته دخیر په رسولو کې سخي ؤ، لکه وږي ته خوراک تیارول ، جاهل او ناپوهه ته نصیحت کول، د خلکو د حاجتونو پوره کول او د خلکو سختي تحمل کول.

امام نووي رحمه الله ددې حدیث په شرح کې وایي:(وَفِي هَذَا الْحَدِيث فَوَائِد مِنْهَا بَيَان عِظَم جُوده صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَمِنْهَا اِسْتِحْبَاب إِكْثَار الْجُود فِي رَمَضَان) شرح النووي على مسلم (٨/ ١٤)

ژباړه: په دې حدیث کې زیاتې فائدې دي چې د هغو له جملې څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سخاوت بیان دی او بله فایده، استحباب د زیات سخاوت دی په رمضان کې.

په رمضان کې روژه دارانو ته د روژه ماتي ورکول لوی فضیلت لري. په حدیث شریف کې راځي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:(إِنَّ الصَّائِمَ تُصَلِّي عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ إِذَا أُكِلَ عِنْدَهُ حَتَّى يَفْرُغُوا وَرُبَّمَا قَالَ حَتَّى يَشْبَعُوا). الترمذي (٣/ ١٥٣)، النسائي (٢/ ٢٤٢)

ژباړه: بیشـکه روژه دار باندې درود وایې ملائکې کله چې خوراک وکړی شي دده ترڅو چې (روژه داران) فارغ شي(له خوراک څخه) او کله به داسې وفرمایل: ترڅو چې ماړه شي.

په يو بل حديث شريف کې راځي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:« مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ، غَيْرَ أَنَّهُ لا يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِ الصَّائِمِ شَيْئًا».سنن الترمذي (٣/ ١٧١)

ژباړه: چاچې روژه دار ته روژه ماتی ورکړ ، شته دده لپاره اجر په شان د روژه دار بې له دې چې د روژه دار له اجر څخه به هيڅ شی کم نشي.

په روژه کې د ټولو خلکو اقتصادي وضعيت يو شان نه وي، ستا په گاونډ کې داسې روژه داران شته چې په وچه مړی يا يواځې په اوبو روژه ماتوي . همدارنگه داسې کونډې، يتيمان او بې وسه او بې توانه خلک شته چې د هغوی په کورونو کې خوراکي توکي نه پيدا کيږي او يا پيدا کيږي خو د کور داعضـاو د مړښـت لپاره کفايت نه کوي.بالخصـوص هغه خلک چې د گاونډي هيوادونو څخه راستانه شوي دي اکثره يې په جيب کې پيسې نلري چې څه پر واخلي او په ډير سختو حالاتوکې ژوند کوي.نو داسې خلکو سره په رمضان کې مرسته او کومک کول ، ولو که په کم مقدار وي لوی اجر لري.

الله تعالى په لاندې آيتونو کې محتاج ته د خوراک د ورکوونکو صفت کوي او د هغوی اجر يې ذکر کړی دی ، خو په روژه کې بيا دداسـې کسـانو اجرونه څو چنده دي. الله جل جلاله فرمايلي دي: (وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْـكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِـيرًا *إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنْكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُورًا).الانسان:(٨-١٠)

ترجمه: او (اب رار) ورکوي طعام خواړه پر محبت مينې ددغه (الله ياد طعام) مسکين او اړ (مجبورته) ته او يتيم پلار مړي ته، او اسير بندي ته.(وايي ابرار) بيشکه چې مونږ طعام خواړه درکوو اسې ته دخاص دالله تعالى د مخ لپاره(چې وه يې وينو ، او د هغه رضا مو په نصيب شي) نه غواړو مونږ له تاسې څخه جزا ، بدل، او نه شکر ويستل.

په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قال: قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« أَيُّمَا مُؤْمِنٍ سَقَى مُؤْمِنًا شَرْبَةً عَلَى ظَمَإٍ سَقَاهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ الرَّحِيقِ الْمَخْتُومِ وَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ أَطْعَمَ مُؤْمِنًا عَلَى جُوعٍ أَطْعَمَهُ اللَّهُ مِنْ ثِمَارِ الْجَنَّةِ » سنن الترمذي (٤/ ٦٣٣)

ژباړه: د ابو سعيد خدري رضى الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هريو مؤمن چې خروب کړي بل مؤمن په اوبو باندې په تنده کې ، الله تعالى به يې خړوب کړي د رحيق المختوم له اوبو څخه او هر مؤمن چې خوراک ورکړی بل مؤمن ته په ولږه کې، الله تعالى به وخوري په ده باندې د جنت له ميوو څخه.

د صدقة الفطر(سرسايه)گټې او په رمضان المبارک کې د نورو صدقاتو گټې:

الف: د صدقة الفطر(سرسايه)گټې: د صدقة الفطر(سرسايې) فائدې په لاندې ډول دي:

١-دصدقة الفطر(سرسايې) ورکړه د مسلمانانو ، فقيرانو او شتمنو ترمنځ الفت او محبت راولي.

٢-د صـدقة الفطر(سرسـايې) ورکړه د ټولنې کمزوري خلک د شـتمنو خلکو سره د اختر په خوښی او خوشحالی کې، خوراک او څښاک کې دواړه شريکوي.

٣-دصدقة الفطر(سرسايې) ورکړه ټولنه کې وحدت او يووالی رامنځ ته کوي.

۴-د صدقة الفطر(سرسايې) ورکړه د شمتنو سره د فقيرانو د زړونو څخه حسد، کينه او نفرت لرې کوي.

ب: په رمضان المبارک کې د نفلي صدقاتو ګټې:

درنو مسلمانانو!

هوښیار هغه څوک دی چې د خپل ځان لپاره ثوابونه مخکې ولیږې او نفلي صدقات ورکړي ، خصوصاً په رمضان المبارک کې ؛ ځکه چې د ټولو صدقاتو او خیراتونو ګټه ستاسې د ځانونو لپاره ده. الله تعالی فرمایلي دي: (وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنْفُسِكُمْ).البقرة:(٢٧٢)

ترجمه: او هر هغه شی چېط نفقه کوی تاسو له خیره (مال نه) پس لپاره د نفسونو (ځانونو) ستاسې لپاره دی.

په رمضان المبارک کې نفلي صدقات ډیری ګټې لري ، چې ځینې یې په لاندې توګه دي.

۱-صدقات ورکول د ایمان نښه ده .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ» صحیح مسلم (١/ ١٤٠)

ژباړه: صدقه دلیل د ایمان دی.

امام نووي رحمه الله ددې حدیث په معنا کې لیکي:(مَعْنَاهُ الصَّدَقَةُ حُجَّةٌ عَلَى إِيمَانِ فَاعِلِهَا فَإِنَّ الْمُنَافِقَ يَمْتَنِعُ مِنْهَا لِكَوْنِهِ لَا يَعْتَقِدُهَا فَمَنْ تَصَدَّقَ اسْتُدِلَّ بِصَدَقَتِهِ عَلَى صِدْقِ إِيمَانِهِ) شرح النووي على مسلم (٣/ ١٠١)

ژباړه: د حدیث معنا داده چې صدقه د حجت دی د صدقې ورکوونکي په ایمان باندې ، بیشکه منافق د صدقې له ورکولو امتناع کوي ځکه چې منافق په صدقه باندې باور نلري ، نو څوک چې صدقه ورکوي ، نو دا د هغه په ایمان دلالت کوي.

۲-صدقات ورکول د انسان ځان له ګناهونو پاکوي. الله تعالی فرمایلي دي: (خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا).التوبة:(١٠٣)

ترجمه: واخله (ای محمده!) دما لونو ددوی څخه صدقه(زکات یاخیرات) چې ښه پاک کړې ته دوی له ګناهونو نه او یابابرکته کړې ته دوی د هغه په وسیله.

جمهور مفسرین وایې چې دا آیت د هغو کسانو په باره کې نازل شوی دی چې ځانونه یې د غزوه تبوک څخه پاتې کړي ؤ، لکه ابو لُبابه او د هغه ملګري او کله چې نبي علیه السلام هغوی آزاد کړل، نو هغوی خپل مالونه د نبي علیه السلام حضور ته راوړل او داسې عرض یې وکړي چې ای رسول الله ! دغو مالونو مونږ د غزوه تبوک څخه پاتې کړي وو، نو دا واخله او دا خیرات کړه زمونږله طرفه او مونږه پاک کړه له ګناهونو څخه ددې مالونو په خیرات کولو سره او مونږ ته ښښنه وکړه، نو دا مبارک آیت نازل شو. تفسیر القرطبي (٨/ ٢٤٢)

امام طبري رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې لیکي:(یقول تعالی ذکره لنبیه محمد صلی الله علیه وسلم: یا محمد، خذ من أموال هؤلاء الذین اعترفوا بذنوبهم فتابوا منها (صدقة تطهرهم)، من دنس ذنوبهم (وتزکیهم بها)، یقول: وتنمِّیهم وترفعهم عن خسیس منازل أهل النفاق بها، إلی منازل أهل الإخلاص). تفسیر الطبري (١٤/ ٤٥٤)

ژباړه: الله تعالی خپل نبي محمد صلی الله علیه وسلم ته وایي، چې ای محمده! (صلی الله علیه وسلم) واخله د مالونو د هغو کسانو څخه چې په خپلو ګناهونو یې اعتراف کړی دی او بیا یې ورڅخه توبه ویستلی ده (صدقة تطهرهم) پاکوي دوی لره د ګندګۍ د ګناهونو څخه (وتزکیهم بها) او وایې چې نمو ورکړې او پورته کړې ته دوی د منافقینو دخسیسو منازلو څخه په دې صدقې سره منازلو د اخلاص د خاوندانو ته.

۳-صدقات ورکول د جهنم د اور څخه انسان ساتي. په حدیث شریف کې راځي ، نبي علیه السلام فرمایلي دي:« اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ).متفق علیه

ژباړه: ځانونه وساتئ له جهنم څخه ولو که په نیمه خرما سره هم وي.

د مسلم په روایت کې راځي:« مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَسْتَتِرَ مِنَ النَّارِ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ فَلْيَفْعَلْ ». صحیح مسلم (٣/ ٨٦)

ژباړه: څوک چې له ستاسو څخه کولای شي چې ځان وساتي له اور (دجهنم) څخه ولو که په نیمه خرما سره وي، نو دا کار دې وکړي.

٤-صدقات ورکول جنت ته دداخلیدو سبب دی.

په یو حدیث شریف کې راځي: عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ أَسْنَدْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى صَدْرِي فَقَالَ:« مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ خُتِمَ لَهُ بِهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ صَامَ يَوْمًا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ خُتِمَ لَهُ بِهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ خُتِمَ لَهُ بِهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ» مسند أحمد (٣٨/ ٣٥٠)

ژباړه: دحضرت حذیفه بن الیمان څخه روایت دی ، هغه وایې چې ما نبي علیه السلام تکیه کړی ؤ خپلې سینې ته ، نبي علیه السلام وفرمایل: څوک چې لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ووایې د الله تعالی د رضا دحاصلولو په غرض ، دده خاتمه په همدې کلمه وشي ، جنت ته به داخل شي او چاچې روژه ونیوله یوه ورځ د الله تعالی د رضا حاصلولو په غرض، نو د هغه خاتمه به په روژه وشي ، جنت به داخل شي او چاچې څه صدقه ورکړه د الله تعالی د رضا حاصلولو په غرض ، خاتمه د هغه په صدقه وشي او جنت ته به داخل شي.

۵-د فقیرانو ، مسکینانو او حاجتمنو خلکو د زړونو خوشحالول. دصدقاتو په ورکړې سره دفقیرانو، مسکینانو او اړمنو خلکو په زړونو کې خوشحالي او خوښي رامنځ ته کیږي. مسکینانو ، فقیرانو او اړمنو ته صدقات ورکول خصوصاً په رمضان المبارک کې د هغوی مشکلات یا مرفوع کیږي او یا کمیږي ، چې له امله یې د اړمنو او حاجتمنو د زړونو د خوشحالی اواطمینان سبب ګرځي.

په اسلام په مقدس دین کې د صدقاتو په مفهوم کې یو څه پراخي موجود ده ، د همدې وجې نه داسلام په مقدس دین کې د خلکو د خوښۍ په موخه هر ډول نیک کار ته صدقه ویل شوی ده. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ وَإِنَّ مِنْ الْمَعْرُوفِ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ وَأَنْ تُفْرِغَ مِنْ دَلْوِكَ فِي إِنَاءِ أَخِيكَ». سنن الترمذي (٤/ ٣٤٧)

ژباړه: د حضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هر نیکي صدقه ده او بیشکه د صدقې څخه دا هم ده چې ته مخامخ شې د خپل ورور (مسلمان) سره په ورین تندي او دا هم صدقه ده چې د خپلې بوکې اوبه د خپل ورور(مسلمان) په لوخي کې خالي کړې.

٦-د صدقاتو په ورکړه کې تکافل اجتماعي او یو بل سره په ټولنیز ژوند کې مرسته کول رامنځ ته کیږي.

په اسلام کې په ټولنیز ژوند کې یو د بل سره مرسته کول او یو بل ته لاس ورکول مطلوب عمل دی او په دې باره کې زیات دیني نصوص موجوددي، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:(وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى) المائدة:(٢)

ترجمه: او یو د بل سره کومک او مرسته وکړئ په نیکۍ او تقوی کې.

په تکافل اجتماعي سره د ټولنې د افرادو ترمنځ طبقاتي توپیرونه له منځه ځي او د ټولنې د افرادو ترمنځ اخوت او وروګلوي پیاوړي کیږي. د همدې امله په اسلام کې په شتمنو زکات فرض شوی دی او د نصاب په خاوندانو صدقة الفطر(سرسایه) واجب شوی ده او داسلام مقدس دین شتمن خلک هڅولي دي ترڅو د اړمنو لاس نیوي او ورسره کومک وکړي.

د صدقاتو ورکول د تکافل اجتماعي(دټولنیزې همکارۍ) تر ټولو غوره صورت دی، ځکه چې د صدقاتو په ورکړې سره د ټولنې حاجتونه او د فقیرانو او اړمنو ورځني مشکلات رفع کیږي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: « عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ صَدَقَةٌ ». قِيلَ أَرَأَيْتَ إِنْ لَمْ يَجِدْ قَالَ « يَعْتَمِلُ بِيَدَيْهِ فَيَنْفَعُ نَفْسَهُ وَيَتَصَدَّقُ ». صحیح مسلم (٣/ ٨٣)

ژباړه: په هر مسلمان صدقه واجب ده (د مخمصې والا مسلمان). وویل شو (ای نبي علیه السلام!) که څوک قادر نه وي د مالي لحاظه د صدقې په ورکولو؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: په دواړو لاسونو دې کار وکړي ، نو ځانته به هم نفع ورسوي او صدقه به هم ورکړي.

اقول قولي هذا، استغفر الله لي ولكم ولجميع المسلمين كافة .

وصلى الله عليه وعلى آله وصحبه اجمعين

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.